السنّة النبوية وعلومها
www.sunnah.global

# الْوَرِقُ بِالذَّهَبِ رِبًا، إِلَّا هَاءَ وَهَاءَ، وَالْبُرُّ بِالْبُرِّ رِبًا، إِلَّا هَاءَ وَهَاءَ، وَالشَّعِيرُ بِالشَّعِيرِ رِبًا، إِلَّا هَاءَ وَهَاءَ، وَالتَّمْرُ بِالتَّمْرِ رِبًا، إِلَّا هَاءَ وَهَاءَ». «سپين زر په سرو زرو بدلول سود دی مګر دا چې لاس په لاس وي، او غنم په غنمو بدلول سود دی مګر دا چې لاس په لاس وي، او وربشې په وربشو بدلول سود دی مګر دا چې لاس په لاس وي، او خرما په خرما بدلول سود دی مګر دا چې لاس په لاس وي

د مالک بن اوس بن الحدثان نه روایت دی وایي چې: ما وویل چې څوک درهم بدلوي؟ نو طلحه بن عبید الله د عمر بن الخطاب سره و، هغه وویل: موږ ته دې خپل زر راوښایه، کله چې زموږ خادم راشي، موږ به تاته د سپينو زرو روپۍ درکړو - نو عمر بن الخطاب وویل: نه! په الله قسم چې همدا اوس به يې د سپينو زرو روپۍ ورکوې او یا به يې زر بېرته ورکوې، ځکه چې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمايلي: «الْوَرِقُ بِالذَّهَبِ رِبًا، إِلَّا هَاءَ وَهَاءَ، وَالْبُرُّ بِالْبُرِّ رِبًا، إِلَّا هَاءَ وَهَاءَ، وَالشَّعِيرُ بِالشَّعِيرِ رِبًا، إِلَّا هَاءَ وَهَاءَ، وَالتَّمْرُ بِالتَّمْرِ رِبًا، إِلَّا هَاءَ وَهَاءَ». «سپين زر په سرو زرو بدلول سود دی مګر دا چې لاس په لاس وي، او غنم په غنمو بدلول سود دی مګر دا چې لاس په لاس وي، او وربشې په وربشو بدلول سود دی مګر دا چې لاس په لاس وي، او خرما په خرما بدلول سود دی مګر دا چې لاس په لاس وي».

[صحيح] - [متفق علیه دی ( بخاري اومسلم دواړو روایت کړی دی)]

یو تابعي چې مالک بن اوس دی وايې چې له هغه سره د سرو زرو ديناروڼه وو او غوښتل يې چې د سپينو زرو په درهمو يې بدل کړي، نو طلحة بن عبيد الله رضي الله عنه ورته وويل: خپل ديناروڼه دې موږ ته راکړه چې ويې ګورم! بيا يې چې کله د اخيستلو اراده وکړه نو ورته يې وويل: کله چې زموږ خادم راغی بيا راشه چې د سپينو زرو ديناروڼه درکړم، دا په داسې حال کې چې عمر بن الخطاب رضي الله عنه په مجلس کې حاضر و، نو دا ډول راکړه ورکړه يې بده وګڼله، او طلحه ته يې قسم ورکړ چې سپين زر همدا اوس ورکړي او يا يې بېرته خپل هغه سره زر ورکړي چې ترې اخيستي يې وو، او د دې لامل يې داسې بيان کړ چې رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي دي چې د سرو زرو په بدل کې د سپينو زرو خرڅول او يا برعکس راکړه ورکړه بايد لاس په لاس وشي، او دا ورکړه بابد سود او باطله بيعه وي، نو سره زر په سپينو زرو او سپين زر په سرو زرو خرڅول روا نه دي مګر دا چې لاس په لاس وي او له يو بل څخه يې سملاسي تر لاسه کړي، همدا رنګه اوړه په اوړو، غنم په غنمو ، وربشې په وربشو ، خرما په خرما نه خرڅېږي مګر دا چې سره په وزن او پيمانه کې برابر وي، او دا راکړه ورکړه بايد لاس په لاس تر سره شي، له دې شيانو څخه هيڅ شی داسې نه خرڅېږي چې يو يې حاضر او بل يې په نېټه وي، همدارنګه مخکې له دې به سره پلورونکی او پېرونکی نه جلا کېږي چې جنس يې تر لاسه کړی نه وي.

النجاة الخيرية
ALNAJAT CHARITY

لجنة الدعوة الإلكترونية
EDC
E-Da'wah Committee